# پښتونخوا

## دپښتنو ټولنيز ولسوليز گوند خپرونه

**۹ مه گڼه ۱۹۹۱ كال**

# Pakhtoonkhwa

**Jahrgang./Vol.:1991 /5 Nummer/No.: 9**

**PASCHTUNCHWA / PASHTOONKHWA**

**ORGAN DER SOZIALDEMOKRATISCHEN PARTEI DER PASCHTUNEN**

**ORGAN OF THE PASHTOONS SOCIAL DEMOCRATIC PARTY (PSDP)**

**www.pashtoonkhwa.com**

**pashtoonkhwa@gmail.com**

**psdp@gmx.net**

**V. I. S.P. / RESPONSSIBLE FOR CONTENTS:**

DR. KABIR STORI
HÖNINGER WEG 63
5000 KÖLN 51   WEST GERMANY

**Editorial Board/Redaktion**

ALI KHAN MASEED
HIDAYAT BANGASH
MUBARIZ  SAPI
GULGHUTAI KUNARAI




# پښتونخوا

د پښتنو د تولنیزا ولسولیزگوند خپرونه

ټوک ۵ گڼه 9

اپریل 1991

JAHRG./ VOL: 5 Nr./No: 9
April 1991

# PASCHTOONCHWA
# PASHTOONKHWA

ORGAN DER SOZIALDEMOKRATISCHEN PARTEI DER PASCHTUNEN

ORGAN OF THE PASHTOONS SOCIAL DEMOCRATIC PARTY

**PSDP**

## سـرلـيـكـونـه

| سـرلـيـكـونـه | مـخ |
|---|---|
| با چاخـان زمـونـږ سیـاسـی پلار | ۱ |
| د درواغـو مـزل لنـډ دی | ۵ |
| پښـتـو نـولـی | ۱۰ |
| د پښتـونـولی لـړونـه | ۱۲ |
| د پښـتـونـولی فلسفی اوتیوریتیکی بنسټ | ۱۳ |
| مـلی شـاعـر مـلنگ جـان | ۱۷ |
| د گـودر غـاړه | ۱۹ |
| نـوی زړی | ۲۰ |
| پښـتـونـه | ۲٤ |
| د پښتنود تولنیزا ولسولیزگوند بنسټیزه (منشور) | ۲۵ |
| پـیژند گلوی | ۲۵ |
| بـنسـتی ارزښتونـه | ۲۵ |
| مـرکز او فعالیت | ۲۷ |
| غـړیتوب | ۲۷ |
| جـرگی | ۲۷ |
| تـاکنـی | ۲۸ |
| گـوندی محـکمـه | ۲۸ |
| د ندی حقوق اومسئولیتونـه | ۲۹ |
| خـپرونـی | ۳۰ |
| بـیرغ | ۳۰ |
| د بـاچـاخـان جـایـزه | ۳۰ |
| کـورنـی دود | ۳۰ |
| پـه بنسټـیزه کښی تغیر او بدلون | ۳۰ |
| خـوشـحال خـان بـابـا | ۳۱ |

خـپـرونـکی: د پښتنو تـولنیز اولسـولیز گوند
پښتونخوا / افغانستان

HERAUSGEBER: SOZIALDEMOKRATISCHE PARTEI DER PASCHTOONEN
PASCHTOONCHWA / AFGHANISTAN

PUBLISHER: PASHTOONS SOCIAL DEMOCRATIC PARTY
PASHTOONKHWA / AFGHANISTAN

زمـــه وار :
V. I. S. P.:
RESPONSSIBLE FOR CONTENTS:

د وکـتـور کـبیر سـتوری
DR. KABIR STORI
HÖNINGER WEG 63
5000 KÖLN 51
WEST GERMANY
TEL. (0221) 360 2472

د خپرونی جـرگه
REDAKTION
EDITORS BOARD

ALI KHAN MAHSOOD علیخان محسود
HIDAYAT BANGASH هدایت بنگش
MUBARIZ SAPI مـبارز ساپـی
GUL GHUTAI KUNARAI گل غوټـۍ کونړی

ليکونکی : عليخان محسو ر

# باچاخان ځونږ سياسي پلار

باچاخان په ۱۸۸۵ ع کال خواوشا د چارسدې د اتمانزيو په کلي کښې زېږېدلی دی د ده د پلار نوم بهرام خان دی د وی د پښتنو د يوسفزي په قام پورې تعلق لري د وی د وورونو ويوه خوروه .

د ده د مشرورور نوم عبد الجبار وو چې وروسته بيا په داکټرخان صيب مشهور شو د باچاخان خپل نوم عبد الغفار خان دی چې اولس ورته فخر افغان هم وائی باچاخان ښوونځی په پېښور کښې ويلی دی د وی د هغه وخت د لسم ټولګی پورې زده کړه کړې ده .

هغه عادتا وخصلت چې قدرتد ماشوم



«د علي خان د باچاخان سره»



والي څخه ده تهورکړی و هغه د غريبوا و بې وزلو خلکو سرهم ستما ستما وولا ره وه .

باچاخان د وطن د ازادی چيغه د انګريز پرضد جګه کړه . باچاخان خپل چاپيريال ښه ترنظر لاندې ونيو . لمړی ئې خپله تولنه مطالعه کړه او د ې نتجې ته ورسيد چې بايد د پښتون په نوم د وطن د ازادی چيغه د انګريز پرضد پورته کړی . د ا ځکه چې باچا خان د پښتنو تاريخ باندی ښه ګاموو .

د مثال په ډول يوانګريز کوم وخت چې هند د برطانيو يانو تر منګولو لاندې وو د تيمورشا سره د خبری کولو لپاره پېښور ته راغی . کله چې ئې د تيمورشاه سره خبر ې وکړی نو تيمورشاه په پښتو ژبه نه پوهيد ونو انګريزچې کله ځی نو خپل رپوټ کښې داسې ليکي .

"چې افغانی سرد ار د خپل قام نه لا د ير ليری دی . ځکه اول د ا چې د هغوی په ژبه نه پوهيږی نو مونږ د غليری والی څخه نه ګټه اخستلی شو ."

نو باچاخان ته دا معلومه شوه چې قامی ژبه د قام په ژوند کښې او ژوند ې ساتلو کښې د ير لوی ځای لری تر څو پوری چې ژبه قام سره نه وی د غه قام نه يرژر مری .

د باچاخان په نظر کښې صرف ژبه نه و مبلکې ژبه اقتصاد د ې سياست د ې علم د ې کلچر او بيد ا ری ده .

ځکه نو د باچاخان ويناده .

(( چې پښتو وايه / پښتو ليکه پښتو لوله ))

هم باچاخان اولنی افغان د ی چې د پښتو ژبې ته ئې لوی ځای ملرنه کړی ده د دوی د سياسی تحريک رسمی ژبه پښتو ومتول ليکلو ست په پښتو ژبه وو او بل خوا باچا خان د پښتو ژبې تاريخي بنياد کيښود او د لمړی ځل لپاره ئې په پښتو ژبه کښې رساله جاری کړله چې نوم ( پښتون ) وو د ې معلوميږی چې باچاخان پښتو ژبې ته په کلکه پاملرنه کوله .

د باچاخان د سياسی غورځنګ نه مخکښې په پښتونخوا کښې مشاعره رواج نه وه . د هرکلی خان به يو شاعر ساتلی و چې د بل کلی د خان



د شاعر سره به ئې مقابله کوله يا به چې چيرته ميله وه نو د خانانو ساتلو شاعرانو به په يو بل پوری ټوکی ټکالی کولی چې کوم شاعر به پری بر شو نو د بل کلی خان او وګړی به غصه شو او د ې نه به جګړې جوړې شوې چې څو نسلو نه به روانې وې . باچاخان د لومړی ځل د پاره د غه د واړه شاعران د خانانو د منګلو څخه خلاص کړل او د مشاعری تخت ته ئې وخيژول او خلک ئې ورته کينول . په دې توګه سره نه يوازې پښتانه د خطرناکو جګړو څخه خلاص شو شاعر هم د عزت ځای وموند او د پښتو ژبې ادب ته پاملرنه وشوه .

د باچاخان بل کارد بد ل په ضد مبارزه وه . د بد خپلو ملګرو ته وويل چې که چيری څوك د وی سره بد وکړی نو بدل به ئې نه اخلی بلکه اخلاقي ماتې بهورکوی ولې په دې چې بد ل کړنه پيدا کوی او بيا د غه ترنسلونو روان وی . پښتون قوم چې تباد ی هم د غه وجه ده .

بل کار چې باچاخان ئې په ضد مبارزه کړی هغه دا و چې پښتون قام د کسبګری څخه کرکه کوله کسبګر ته به ئې په سپکه سترګه کتل . باچاخان ته معلومه وه چې پرمختللو قامونو ترقی او پرمختګ سترګه کتل او د وی د کسبونو څخه ئې ګټه واخيسته چې نتيجه ئې صنعتی او ښتون ( انقلاب ) و . ترڅو چې پښتون قام کسبګر ته پاملرنه ونکړی او کسب ته په درنه سترګه ونه ګوری نو د وی به هم د غسې په اقتصادی توګه خوار او برباد وی . د ټولونه وروسته او د ټولو نا روغيو جاله به وی د دی ناروغی د ليری کولو د پاره يو بوخ ګام ايښود ل پکار و . هم د غه وجه وه چې باچاخان پخپله پخپل لاس د خاماتو ته جوړه کړه او بيائی واغوسته او د بلی خوا د سرپوښو ( خدائی خدمتګارانو غورځنګ ) په ډيره پيمانه سره د



د بزګرانو ( د هقانانو ) او مزد ورانو څخه جوړ کړ چې په ډير ه وخت کښې ورته د خانانو نوابانو او ملکانو له خوا په سپکه سترګه کتل کيد ه .

د بلی خوا پښتنو د سود اګری او تجارت څخه تښته کوله او هيڅ ابه د سوداګری او د وکانداری کاروبار نه کولو او ويل به ئې د وکانداری د هندوانو کار دی . د پښتونخوا په سوداګری او کاروبار باندی پنجابيانو بشپړه قبضه کړی وه او ګټه ئې تری اخيسته نود دی پاره چې د سوداګری او د کانداری څخه د پښتنو کرکه ورکه شی نو باچاخان پخپله د اتمانځو په کلی کښې د عبد الغفارخان په نوم هند ه ئې جوړ کړا و د کان ئې پرانيست او پخپله ئې تله په لاس کښې واخيسته او لکه د بريښنا په شان په ټول ملت کښې اوازه خپره شوه چې د بهرام خان ځوی د وکاندار شو او خانی ئې پريښود له . د هندوانو په شان تله کوی . په دې توګه سره باچاخان د غه غټی ناروغی په ضد ګام واخيست او خپلو ټولو سياسی ملګرو ته ئې لارښودنه وکړه چې پخپلو کليو کښې د وکانداری او کاروبار پيل کړی ترڅو چې په پښتنو کښې د سوداګری څخه کرکه ورکه او په سوداګری لاس پوری کړی او د پوروړتوب څخه خلاص شی .

کله چې يو زيات شمير پښتنو په سوداګری او د وکانداری پيل وکړ او ډير ژر د ډيرو وګړو د ذ هنو نه د غه خبره او بيځايه مغرورتيا ووتله نو خپله منډه ئې د بل سری په لاس ورکړه

ای نازولو ځلمو يو شئ د مرام د پاره
دا نازولی ځوانئ خاوری کړئ د قام د پاره
راپاځئ ، راشئ ځان ته کورد شرافت جوړ کړئ
دی خړو خاورونه انسان ته يو جنت جوړ کړئ

"اجمل خټك"

لیکونکی: د ګروال حضرت رسول

# د رواغو منزل لنډ دی

په افغانستان کښې د ثور د ۱۳۵۷ کال نظامي پاڅون وروسته چې د شوروي سوسیالیزم او کمونیزم ایډیالوژي په فکر او خیال کښې ولاړه وه او په افغانستان کښې د نوموړي ایډیالوژي تحلیل په بشپړه توګه څرګند شوی نه و او په تیره بیا هغه لیډران چې د ګوند په سرکښې ئې قرار درلود هغوی پرته له دې چې د شوروي ټولنې سوسیالیزم او نظامي ډیکتاتوري په خپلو سترګو لیدلې او د هغې څرنګوالی او راتلونکې ئې ځانونو ته نه وُ معلوم کړی بلکه د کتابونو او د شوروي په نوم کمونستانو پروپاګنډونو ورته راغیږې لاندې راوستلې و


د ګروال حضرت رسول

چې ګویا د چاخبره په پټو سترګو ئې یوه خیالي نړۍ جوړوله چې د اکار د افغانستان په ټولنه کښې د امکان نه لیرې خبره وُ، هماغه وُ چې د ګوند ستراتیژیک هدف همدغه د خیالي نړۍ جوړول وټاکل شو او د دیموکراتیک مرکزیت چې په واقعیت کښې یوه ناوړه نظامي د یکتاتوري وه د اداره کولو شعار وبلل شو او روسي کمونستانو ورورګلوي او دوستي په رڼا کښې خپل شوم هدفونه تراجرا لاندې ونیول. دا چې د افغانستان خلک او بیا په خاصه توګه پښتانه د خپل د وست او ملګري سره چې هغه ته ئې د ورورولي لاس ورکړی وي د هغې سره په ډېره سپېڅلتیا او رښتینولي چې د مخامخ لوري



نه هم هماغسې غواړي د عمل په لیاره ځي. د ګوند مشرانو د همدغه فکر په پیروي په روسي کمونستانو د ومره زیات اعتماد وکړ چې د نړۍ په تاریخ کښې به د اویسا ډېر کم لیدل شوی وي.

د ثور نظامي پاڅون نطږه موده وروسته د هماغه وخت د روسي کمونستانو رهبري چې په سرکښې برېژنیف ولاړ و د افغانستان د خلق د یموکراتیک ګوند په مشرتابه کښې د خپلو ناوړه هدفونو ترسره کولو د پاره داسې اختلافات رامنځ ته کړل چې ګوند ئې په ډېرو ګروپونو او په مختلفو نومونو وویشه او یو پربل ئې د بې تجربه ګۍ له کبله داسې وټکول چې حتی د پیرنګیانو چمو نه ورته ګوته په غاښ کښې نیسي. روسي کمونستان پدې پوهیدل چې د دوی د ستراتیژیکو هدفونو د پلي کولو د پاره داسې خلک پکار دي چې د دوی د جاسوسۍ د ماشین نه تیر شوي وي او ازمایل شوي وي نو هماغه وچې خپل زړین کړی چوکړ ئې د خپل خلویښتم اردو سره د مرغومي په شپږم ۱۳۵۸ کال کښې یو غریب او بې وزله هیواد ته داخل کړل او په وچ زور ئې قانوني دولت رنګ او خپل ګوډاګیان ئې د قدرت په چوکۍ کښېنول او هغه خلقیان چې د دوی تري نه بیرېدل څه ئې اعدام او څه ئې په پل چرخي جیل کښې په همېش بند محکوم کړل او یو شمېر ئې چې د دوی لخوا په مقامونو او چوکیو د پرته غولولي شول په ډېرو جګو چوکیو د خپلو مقصدونو د پلي کولو د پاره چې صلاحیت نه ئې د یوه خاد د کاتب نه هم کم وُ تش په نومونو ګمارل او دا خاص له دې کبله چې هغه سپېڅلي او پر هیواد مین ګوندیان چې په مسلحو قواو کښې ئې دندې سرته رسولې پدې د رواغو وغولوي چې ګوندي خلقیان اوس هم په لوړو مقامونو او چوکیو کارکوي او



کوم چې به د رښتینولي او اصولیت آواز اوچت کړ نو هغه به ئې په خپلو شخصي محکمو کښې په اعدام رساوه یا به ئې د پلچرخي په جیل کښې په عمري بند بندي کاوه او یا به د هیواد نه د باندې د ډیپلومات په حیث لیږل کیده خو داټول څیزونه د رواغو په ستنو ولاړ وو او ورځ نه یو ورځ به ړنګیده لکه چې په پښتو کښې متل دی چې وائي د د رواغو منزل لنډ دی.

روسي کمونستان پدې پوه شول چې نور چمونه او درواغ نه چلیږي او د بلې خوائې نظامي تلفات د ومره زیات شول چې د شوروي خلکو نور د اکار نه شو زغملی زما په یاد دي چې د ۱۳۵۹ کال د وري د میاشتې په شلمه نیټه کوم وخت چې ما د روسانو د خلویښتم اردو د شپږ شپیتمې (٦٦) لوا د سیاسي امر د ګروال اندري د ننتاتویچ سره په سمرخیلو کښې چې د دوی همدغه لوا هلته اقامت درلود وکتل هغه په داسې حال کښې چې د پرنشه ئي ماترینه پوښتنه وکړه چې ستاسو لوا تر اوسه څومره تلفات موندلي دي هغه راته وویل چې زمونږ د لوا په هر و څلورو نفرو کښې یو نفر مړ شوی دی.

دا کار مونږ ته دا را په ګوته کوي چې د روسانو تلفات ډېر زیات وُ نو همدغه سبب وُ چې خپلې قواوې ئې د افغانستان نه وایستلې خو د هغې پرځای ئې داسې د رندي او اغیزمناکې وسلې لکه سکاټ ۱ــ سکاټ ۲- وراګان - لونا او داسې نورې وسلې چې لیرې واټن پرې ویشتل کیږي خپلو ګوډاګیانو ته وسپارلې چې هره ورځ د هغې په واسطه د پښتنو سیمې ویشتل کیږي او د رانده تلفات هغوی ته اړول کیږي.

پټه دې نه وي چې د دې ټولو د رواغو او چمونو نه د مسلحو قواوُ هر افسر



او ړوکي ضابط او سرتیري ښه خبر دي چې د دوی څه غواړي؟ له همدې کبله په تیر کال کښې د دفاع وزیر شهنواز تڼي خپل پښتنه پیشنهادونه د اصولیت او قانونیت د پلي کولو په غرض وړاندې کړل خو د دې پیشنهادونو په وړاندې کولو سره په دوی باندې ویره راغله او په پای کښې شهنواز تڼي په نابېره توګه راګیر کړ او د روسانو په مرسته ئې د بګرام هوائي ډګر بمبارد او د دفاع وزارت ئې چې به هډ و فکر نه کاوه د خادیانو په لاس وسوځول شو او پدې توګه هغه افسران او ړه ضابطان او سرتیري چې د خپل هیواد د ودانولو او لوړتیا په ارمان وُ شهیدان شول او څه ئې باندني هیوادو ته د خاد د ناولي دستګاه د اعدام کولو نه ځانونه پاکستان او یو شمېر ئې فدرالي المان ته چې په هغو کې زه خپله د ګرمن رحمت الله د ګرمن عبدالرسول جګړن جمال پیلوټ جګړن محمد حسن نور او لومړي بریدمن غلام نبي سخي شامل دي ځانونه راخلاص کړل او پدې توګه ئې پر خلقیانو د باغبان او ملا، سید، اخونزاده چمونه وکړل او هر ګروپ ئې چې د روسي کمونستانو د هغه وخت رهبري پرې نومونه ایښودلي و جلا جلا له پښو وغورځول.

د خادیانو د هغه وخت د روسي کمونستانو د رهبري اساسي هدف دا وُ چې د پښتنو سیمونه ځانونه تود و اوبو ته ورسوي او دا چې پښتانه د اکار نه شي منلی نو باید د پښتنو ټولې سیمې د خاورو سره خاورې کړي د ودونه او ژبه ئې له منځه یوسي او حتی په راډیو

اخبارا وتلویزون کښې پښتو ژبې ته هیڅ حق ورنکړی چې دا کارونه په عملي توګه وشول او همدغه راز د پښتنو ماشومان، زلمیان، ښځې او پیغلې ترسپین زیرو پورې په سکاتونو او میګونو بمبارد اوله منځه یووړل چې د دې کار ښې نمونې تاسې په ګنړونو، جلال اباد، لغمان، پکتیا، پکتیکا غزني، قلات، فراه، قندهار، هرات، نیمروز، قندوز، پروان او د وردګو میدان په ولایتونو کښې ښې لیدلې شي.

د روسي کمونستانو ګوډ اګیان فکرکوي چې که مونږ د مزو او چړچوډ چوکیونه کښته شو نوبیا افغانستان د نړۍ د نقشې نه وزي او افغانستان هم څوک نه شي اداره کولي مګر د اپوښتنه تری څوك نه کوي چې د هیواد ملي شتمني خود ی په روسانو چورکړه او څینې نوره د ی د خپلو او خپلوانو پواسطه د ملي بانك او ملي موزیم څخه بهرته وتښتوله او هره ورځ ستاد مقام د ساتنې په خاطر په زرهاو بې وزله خلك مري ایا د دې مسئولیت ځواب به اخرورکوي او که نه ؟

په پای کښې په لنډه توګه دا ویلي شو چې نور د روسي کمونستانو د ګوډ اګیانو غولونه او د رواغ نه چلیږي او د افغانستان اولس به خپله مبارزه ترهغه وخته جاري وساتي ترڅو چې د غه نظامي د یکتاتوري رانسکوره او په ځای ربښتیني پلورالیزم نه د خاد پلورالیزم چې هلته په واقعي توګه د قلم او بیان ازادي وي او د باندني استعمارنه په امن وي او یو فدرالي سیستم په هیواد کښې چې د خلکو د نیکمرغي هوساینې او د هیواد د پرمختګ یوازنی لیاره د ه منځ ته راشي



لیکونکی: ستوری

# پښتونولي

پښتونولي یوغیری سرکاری اولسي سیستم د ی چې سیاسي، ټولنیز او حقوقي خوی لری او تاداو ئې په جرګه ولاړ د ی. د جرګې سیستم په انساني ټولنه کښې د جرمني پوهاند شتاین ( S t e i n ) دا ټکل له مخې پنځلس زره ( ۱۵۰۰۰ ) کاله د مخه منځته راغلی دی (۱) دا د دی مانا (معنا) لری چې د پښتون قام چې د جرګې سیستم لا پکښې تراوسه رواج لری د نړۍ د لرغونو قامونو په ډله کښې راځي چې د پنځلسو زروکلونو څخه اوږد تاریخ او بډای کلتور لری. د دی اوږد تاریخ او بډای کلتور په نتیجه کښې د پښتون لغظ یوه کلتوري اصطلاح ګرزیدلې ده چې پت، ښیګړه، توره، ورورولي او ننګ ئې د ډ جوړوی.



( ستوری دغني خان او خان لالا محمد افضل خان سره )



پښتونولي د پښتنو لیکوالانو سربیره د نړۍ د لیکوالانو پام هم ځانته راا ړولی د ی او د خپلو څیړنو موضوع ئې ګرزولی د ه. نوځکه مونږ مخکې لد ی نه چې د پښتونولۍ په باره کښې خپله نظریه وړاندې کړو یوشمیر اروپائي پوهان خبرو ته پریږد و.

ماکس کلیم بورګ ( Max Klimburg ) د پښتونولي د لاندې د پښتنویوعنعنوي یا حقوقي سیستم پوهیږ ی چې" ترټولو ستره قضا (محکمه عدالت) ئې جرګه د ه او لیکي چې جرګه د ازادو ډیموکراتیکو وګړو سره سم او د کینې د مخنوي له کبله نه مشرلري او نه د غوندې په وخت کښې د هرتن د پاره ټاکلي ځایونه وي. سړی په ناپیلي ځای کښې د همفکرو کسانو په ډله کښې ناست وي او هرڅوك هرکله که وغواړي کولي شي چې پاځیږي خبرې وکړي او لاړ شي. د جرګې د پریکړو د پاره د رایو ډیره کې شرط ند ی هیڅکله رائی نه اخستل کیږي بلکه د مخالفوکسانو نشتوالي ارزښت لري. د جرګې د پریکړو عملي کونه د جرګې د ګډ ون کوونکو مهمه ټولنیزه دنده ده."(۲)

همدغسې جاناتا ( Janata ) او کروزی ( Krause ) او ځینې نور بهرني لیکوالان پښتونولي د پښتنو یوازې یو د ویاړ د ود یا حقوقي د ود ګڼي — (۳)

د پورتنیو لیکوالانو دا نظریه چې پښتونولي د پښتنو یوازې یو حقوقي د ود یا سیستم د ی مونږ ته بشپړه نه بریښي ځکه چې



جرګه چې د پښتونولي ترټولو سترمقام د ی یوازې حقوقي پریکړې نه کوي بلکه ټولنیزې او سیاسي پریکړې هم کوي د دې خبرې ښه مثال دا د ی چې پخپله احمدشاه بابا هم د جرګې له خوا د افغانستان مشرټاکل شوید ی. لد ی کبله پښتونولي یوازې یو حقوقي سیستم نه شي ګڼل کید لی بلکه ټولنیز او سیاسي سیستم هم د ی*

د کلیم بورګ ( Klimburg ) دا خبره سمه د ه چې د پښتنو جرګه د یموکراتیك خوی لری چې هرڅوك پکښې په ازادانه ډول خبرې کولي او خپله نظریه څرګند ولی شي خو دا چې د ی وائي چې جرګه مشر نه لری — پد ی هکله پکار د ه چې ووایو چې جرګه مشر او مشران لری خو د غه مشران د وټونو له لیاری نه ټاکل کیږي بلکه عنعنوي منل شوي کسان د ی. د مثال په ډول په یوه جرګه کښې چې یو قومي مشرناست وي سړی ویلی شي چه د غه جرګه د هغه د مشری لاندې وشوه.

**د پښتونولۍ اړخونه:** پښتونولي د ری لري ونه لري

۱) <u>پښتو</u>: پښتو یوازې د پښتنو ژبه نده بلکې د یوشمیر

---

* د ی واقعیت ته خپله جاناتا ( Janata ) چې د کولن په پوهنتون کښې د پښتونولۍ په باره کښې سمینار ورکولو او د استریانه راغلی و ځما د انتقاد په ځواب کښې تن کیښود او ویویل چې هو احمد خان جرګې باچا کړی و او جرګه سیاسي پریکړې کولي شي او سیاسي سیستم هم د ی

صفتونو مجموعه ده لکه پت، ښیګړه، توره، ورورولي، میرانه او داسې نور.

۲) دودونه او نرخونه: لکه سوله، روغه، ناغه، ننواتې او داسې نور

کله چې د یوې جرګې پریکړه د نورو جرګو له خوا ومنل شي نو د وخت په تیریدو سره دود یا نرخ ګرځي.

۳) پیغور او بدل: د پیغور پواسطه د پښتنو پښتو (صفتونه) په پوښتنه کښې اچول کیږي او پښتانه د ګام ایښودلو او بدل اخستلو د پاره په حرکت راځي.

**د پښتونولۍ فلسفي او تیوریکي بنسټ:** د هر ټولنیز سیستم د ودې او چلیدو د پاره درې شرطونه ضروري.

۱) ساتندویه کسان

۲) یوه تیوري (نظریه)

۳) یو د تبلیغاتو ځای

کوم ټولنیز سیستم چې دغه درې شرطونه پوره کولی نه شي هغه ګوډ او شل دی چلیدلی او وده کولی نه شي او د منځه ځي. پښتونولي دا درې پاسنې شرطونه پوره کوي. د پښتونولۍ نظریه پښتو او ساتندویه ئې جرګه ده او د تبلیغاتو ځایونه ئې کورنۍ، حجره او دیره ده

د پښتونولۍ ډیموکراتیک خوی په پښتو کښې پروت دی چې د یولړ



صفتونو څخه لکه څنګه چې مو د مخه وویل جوړه شویده چې هر پښتون ئې که موړ وي او که غریب بایده دی چې ولري. همدا خبره د پښتنو بابا خوشحال خان خټک تائیدوي چې وائي

درست پښتون له قندهاره تراټکه × سره یو د ننګ په کار پټ او اشکار

پښتو د پښتنو ګډه ښکلا ده ننګ چې د پښتو یوه برخه ده د هر پښتون ښایست دی او هیڅ پښتون په دې ښایست کښې د بل نه کم نه دی په پای کښې پکار ده چې دا خبره هیره نکړو چې ځینې پوهان وائي چې د جرګې سیستم چې یو ډیموکراتیک سیستم دی په پخوانیو قبیلوي اوهدی ټولنه کښې موجود و، کومه چې د بې طبقو ټولنو یوه کلاسیکه او لرغونې بڼه ده. څوکله چې طبقاتي ټولنه چې ستیټ (دولت یا سرکار) ورسره هم مل و منځ ته راغله نو د جرګو دغه سیستم هم د منځه لاړ. په دې لړکښې انګلس (Engels) د مارګن (Morgen) په حواله سره د ایروکیزن (Irokesen) د سنیکاس (Senekas) قبیلې ته ګوته نیسي. دغه قبیله د ژوو (حیواناتو) د نومونو په بنسټ په اتو خیلونو ویشل شویوه چې هرخیل یوه جرګه لرله چې بالغو نرانو او ښځو پکښې د رایو مساوي حق لرلو. دغې جرګې د سولې او جګړې مشران ټاکل او لیری کولی شو. د دې اتو وارو خیلونو د سولې او جګړې د مشرانو نه د سنیکاس (Senekas) د قبیلې جرګه جوړه شویوه. (٤)

که څیرشو نو وبه وینو چې د ایروکیزن (Irokesen) د سنیکاس (Senekas) د قبیلې جرګه چې د طبقاتي ټولنې په منځ ته راتګ سره د منځه لاړه



د پښتنو د جرګو د موجوده بڼې سره توپیر لري. دا چې د پښتنو د جرګو موجوده بڼه د ابتدا نه همداسې وه او که د تاریخ په اوږدو کښې بدله شویده یوه داسې پوښتنه ده چې ځانته د څیړنې موضوع جوړوي چې موږ ئې دلته څیړل نه غواړو او په دې بسیا کوو چې د پښتني ټولنې د جرګې د موجوده سیستم او د ایروکیزن (Irokesen) د سنیکاس د قبیلې د جرګې توپیرونه را په ګوته کړو.

۱) د پښتنو په جرګو کښې رائې نه اخستل کیږي حال دا چې د سنیکاس (Senekas) د قبیلې د خیلونو په جرګو کښې رائې اخستل رواج و.

۲) د پښتنو جرګې غیري مرکزي او خپلواکه بڼه لري چې یوه جرګه ئې د بلې پورې تړلې نه ده حال دا چې د سنیکاس د قبیلې د خیلونو جرګې لکه د ستیټ (سرکار یا دولت) په شان په مرکزي اصولو ولاړې وې.

۳) د پښتنو جرګې د لږ وخت د پاره منځ ته راځي حال دا چې د سنیکاس د قبیلې د خیلونو جرګې یو دایمي تنظیم و.

٤) د پښتنو جرګې د هرچا له خوا راغوښتل کیدلی شي او د بیروخت د کمزوري له خوا او کله کله د پیښود ضرورت له کبله بې لدې چې څوك ئې راوغواړي منځ ته راځي او خلك د جرګې لپاره پخپله را ټولیږي. د جرګې د ګډون کوونکو څرنګوالی او شمیر د پیښې او لانجې د څرنګوالي



پورې اړه ولري. جرګه کیدای شي چې د کلي، سیمې، خیل او قامي (ملي) سویه سره منځ ته راشي. د ایروکیزن د قبیلې د خیلونو جرګې د سولې او جګړې د مشرانو له خوا راغوښتل کیدلې.

د دې ټولو په نتیجه کښې سړی ویلی شي چې د ایروکیزن د سنیکاس د قبیلې جرګې په ټیټه سویه کښې کټ مټ ستیټ (سرکار یا دولت) ته ورته وې. نو کله چې په طبقاتي ټولنه کښې په جګه سویه ستیټ یا دولت منځ ته راغی نو دغه جرګې ئې هم د منځه یوړې ولې چې په جګه او غوره سویه سره تنظیم په ټیټه سویه د همغه شان تنظیم ځای نیسي او د منځه وړي ئې خود پښتنو جرګې د ستیټ (دولت یا سرکار) په برخلاف غیري مرکزي، خپلواك او موقعتي خوی لري او یو ښه پر اولسي ډیموکراتیک سیستم دی چې د پښتني ټولنې ټولې ربړې حلولی شي او لدې کبله ئې ستیټ (دولت) ځای نیولی نه شي.

اخستونځې


(۱)
Stein,Werner:"Kulturfahrplan"Berlin 1954,S.14

(۲)
Klimburg,Max :"Afghanistan" Wien 1966,S.110 f.

(۳)
Krause,Willy:"Afghanistan"Tübingen,Basel 1972

(٤)
Engels,Friedrich:"Der Ursprung der Familie,des Privateigentums und des Staat" Berlin 1974,S.194 f.

لیکونکی : میرداد خیل

## ملی شاعر ملنګ جان

باغ دی د توتیانو نه پریږدی زاغان
دی پښتون مالیار پکی وژنی پری خپل ځان

داد خدای بخلی ملی شاعر ملنګ جا
لومړنی شعر دی . ملی شاعر ملنګ جا
. ملک عبدالشکورخان ځوی واو د
ننګرهار د بهسود د چمیار په کلی
کښی په ۱۲۹۳ هـ ش کال کښی
ځیږیدلی دی . د ده اصلی نوم
محمدامین و اوکورنی به د مینی له
مخی امین جان باله . امین جان د
دری کالو ما شوم و چی پلار ئی مړشو .
ملک عبدالشکور خپله پانګه او
شتمنی د چاپیریال د ناوړو پیښو
له امله د لاسه ورکړی وه او د وی
کورنی د چمیار د کلی څخه د پیرو
سیمی ته کډه وکړه او هلته په
خواری مزدوری بوخته شوه . څو
چی امین جان پنځلس کلن کیده نو
په ښکاراونړو خواریو مزدوریو
ئی خپل ژوند تیراوه . بیا د کامی د

اوربنګ کلی ته ولاړ . د امین جان
په خټه کښی د کوچنیوالی څخه
د شعر نابغوی استعداد اښکل
شوی و او پښتنی مورد ننګ غیرت
او پښتونولی په ځانګوکښی ځنګولی و
نو شعر ئی د شاعری د پیل سره
سم د قام او ظن په مینه رنګ و
اود شعر په کسر کښی به ئی د امین جان



ملنګ جان



په ځای ملنګ جان استعمالاوه .
د شاعری د پیل څخه شپږ میاشتی
وروسته د ده کورنی د بهسود و د
چمیار کلی ته راغله او وروسته له
هغه دی د ملنګ جان په نامه
مشهور شو او بیا یو کال د
جلال اباد په امنیه کښی او بیا
دوه نیم کاله د کونړونو په
لویه اولسوالی ( چی اوس سرېه
یا ایالت دی ) کښی کوتوالی
(سپاهی ) و . د دی څخه
وروسته ئی پخپل کلی کښی مزدوری
او بزګری ( د هقانی ) کوله . په دغه
توله موده کښی به ئی ملی تولنیز او
سیاسی شعرونه ویل او د سندرغاړو
د لاری به په اولس کښی خپریده او
پدی توګه به ده په پښتنو کښی
سیاسی بیداری او د پښتنو د ازادی
غورځنګ غښتلی کاوه . د دی کار د هغه
وخت افغانی حکومت د پروار خطا کړ
د دی د پاره چی د ملنګ جان د اسی
شعرونه چی د دوی د سیاست او

رضا مخالف وی په اولس کښی خپاره
نشی نو ملنګ جان ئی په ۱۳۳۲ هـ
ش کال کښی کابل ته راوغوښت او
د کابل په راډیو کښی د پښتو د
موسیقی د منتظم په توګه مقرر کړ او
شپږ سوه افغانی ورته تنخوا وټاکله
ده ته او د ده څلورو شاګردانو
اول میر ، طلا محمد ، فقیر او میرزا ګل
ته د قبائلو په ریاست ( چی اوس د سر
حداتو وزارت دی ) کښی ځای
ورکړ او هلته به اوسیدل .
ملنګ جان د لیک او لوست څخه بی
برخی پاتی شوی و او یوازی قرانشریف
ئی لوستلی و خو په ۱۳۲۸ هـ ش
کال کښی ورته یوښوونکی پیدا شو او
په شپږو ورځو کښی د ومره لیکزده
کړ چی خپل شعرونه ئی پخپله لیکل
او لوستلی شو . وروسته ئی بیا پخپله
پاملرنه سره لیک ښه شو او پښتو
کتابونه ئی په اسانی سره لوستلی شو .
داچی د ملنګ جان په شعرونو کښی
د وطن مینه او د پښتنو د ازادی



جذ باتو غورځنګونه وهل او دغه
جذبه ورځ په ورځ زیاتیده کومه
چی د هغه وخت د افغانی واکمنو
خوښه نه وه نو په ۱۳۳٤ هـ ش
کال کښی د کابل د راډیو څخه لیری کړ
د ۱۳۳٦ هـ ش کال د لړم د
میاشتی په لسمه نیټه هغه
وخت چی دی د خپلی کډی سره
ننګرهار ته روان و د لته بند
په کږلیچو کښی د دوی موټر د
لاری څخه واوښت او ملنګ جان

د خپل د ری نیم کلن ځوی د واجان
سره یو ځای مړ شو . ویل کیږی
چی د موټر په اوختلو کښی د
هغه وخت افغانی واکمنو لاس
لرلو . ملنګ جان د چمیار د
کلی په هدیره کښی ښخ دی
او د شنا ختی په ډبره ئی
د ده دا شعر لیکل شویدی .
د محبوب وطن په غیږ کښی ارام پروت یم
لکه طفل چی اوده شیز کښی د مور وی

---

## دګودرغاړه

د مینی فن کښی می نیستی نه مخه واخیسته
د قسمت ویش کښی می په برخه میکده واخیسته
زړه می زلفی شوا ونښه می په مستی راغله
چی می د قام په مینه ړکه پیمانه واخیسته
د ازادی د لیلا تږو ته ساقی شومه زه
د تږو تنده ماتول می په زمه واخیسته
د میو سیند می د لیلا منګی د پاره جوړ کړ
د ګودرغاړه می ریبارته اجاره واخیسته
د لیلا مینه کښی مجنون د پښتو ستوری شومه
د خوشال خان قلم او توره می تیره واخیسته

" ستوری "



خبریال : هدایت الله بنګښ

## نوی خبری

**بُن :** د پښتنو د ټولنیز اولسولیز ګوند مشر تابی په
نری او سیمه کښی د بدل شوو حالاتو په رڼا
کښی د پښتنو د روند مشر اجمل خټک د پښتنو
د حالاتو او راتلونکی
په باره کښی
د نظریو بدلون
د پاره جرمنی
ته رامیلمه کړیدی
د پښتنو د ټولنیز
اولسولیز ګوند



" اجمل خټک "

لوی منشی هدایت بنګښ په بن کښی وویل چی د د روند مشر
اجمل خټک د راتګ انتظار د روان عیسوی کال د جون یا
جولای په میاشت کښی کیږی .

**کولن :** د روان عیسوی کال د مارچ د میاشتی په پای
کښی د عطامحمد شیرزی د مشری د لاندی د کولن په ښار
کښی د پښتنو د کلتوری ټولنی د غړو غونډه وشوه او د ټولنی
نوی مشرتابه ئی وټاکله .
د پښتنو د کلتوری ټولنی نوی مشر محمد شرین ګردیوال
وټاکل شو . سربیره پرده نور اته (۸) تنه د پښتنو

د کلتوری ټولنی د مشرانو د جرګی غړی وټاکل شو. د پښتنو د کلتوری ټولنی نوی ټاکل شوی مشر محمد شیرین ګردیوال د پښتونخواد خبریال سره په مرکه کښی وویل چی ژر تر ژره به د کولن په ښارکښی د پښتنو یو کلتوری مرکز جوړ شی. دغه کلتوری مرکز به د پښتنو او جرمنیانو د ښه تفاهم لپاره په پښتو او جرمنی ژبو یو مجله راوباسی او هم به د پښتنو ماشومانو د روزنی لپاره یو



« محمد شیرین ګردیوال »

ښوونځی د پښتو ژبی د زده کړی لپاره جوړ شی. د پښتنو کلتوری ټولنه به چی یو رسمی ټولنه ده په راتلونکی کښی د خپلی سر پرستی د لاندی د جرمنی په نورو ښارونو کښی هم همدغه شان کلتوری مرکزونه جوړ کړی ترڅو چی د پښتنو ماشومان رانه په پردی ټولنه کښی د خپل پښتنی کلتور او ټولنی څخه پردی نه شی.

**کولن:** د پښتنو د ټولنیز اولسولیزګوند مشر ډوکتور کبیر ستوری وویل چی نړی د سیاسی ودی اوسنی پړاو د اولسونو د یوالی



او ازادی پړاو دی چی ځینی په زور سره ویشل شوی اولسونه لکه جرمنیان او یمنیان پکښی یو او خپلواک شو او ځینی نور د یووالی او ازادی په لور روان دی. په دی سیاسی پړاو کښی د پښتنو د یووالی او ازادی چغه پورته کول یو تاریخی ضرورت دی. له دی کبله د پښتنو ټولنیزاولسولیزګوند د پښتونخوا ملی او جمهوری (ډیموکراتیك) ګوندونو او قامی مشرانو ته داغږکریدی چی د خپل قام او وطن د بد بختیو د لیری کولو په خاطر د سیمی په سویه سره د یوی جبهی یا محاذ په بڼه کښی راټول شی او د پښتون اولس د یووالی او ازادی هلی ځلی تودی کړی.

**مونشن:** د پښتنو د ټولنیزاولسولیز ګوند د میرمنو د ټولنی مشره عایشه زمانی چی په "پلوشه" مشهوره ده په کابل کښی د حالاتو د خرابیدو او د کابل د واکمنو د ضد ی پښتنی فعالیت د زیاتیدو له کبله د خپل میره ساقی او ماشومانو سره یو ځای جرمنی ته راغلی ده. پلوشه غواړی چی



« پلوشه »

په یورپ او امریکا کښی او په تیره بیا په جرمنی کښی پښتنی میرمنی راغوندی او د هیواد نه بهر هم د پښتنو د ټولنیز اولسولیزګوند د میرمنو د ټولنی بنسټ کیږدی



**پیښاور:** په خفګان سره مو خبر لاس ته راوړی دی چی ډاکتر قیوم یار د زړه د دریدلو د ناروغی له کبله په پیښاور کښی په حق رسیدلی دی. ډاکتر قیوم یار د کونړ د وټه پور د کلی د خدای بخښلی وکیل محمد اکرم خان ځوی و چی خپله لومړنۍ زده کړه ئی د رحمان بابا په لیسه کښی او لوړه زده کړه ئی د کابل د پوهنتون د طب په پوهنځی کښی سرته رسولی وه. خدای بخښلی قیوم یار په پیښاورکښی د افغانی طبیبانو مشر او یوننګیالی پښتون و چی د قام او وطن د ابادی او سوکالی په لاره کښی ستر خدمتونه کړی دی. زمونږ ګوند د ډاکتر قیوم یار مړینه پښتون اولس ته یو ستر تاوان ګڼی او د کورنی د ټولو غړو سره ئی خواخوږی ښکاره کوی.

مسا پره!
په همدی تری دی لاره!
سم د لمر په خیره رسی
د حجرو دیرو وطن ته
دا زموږ سلام به هم وړی دا خو مراوی سره ګلونه
"علی ګل پیوند"

چی خادم څوك د وطن وی تری نه جار شم
چی د قام په ننګ مین وی تری نه جار شم
چی ئی حس د پښتونوالی وی په زړه کښی
که ځما د سر د ښمن وی تری نه جار شم
" ستوری "



# پښتونه

پا څیږه پښتونه فیصله وکړه وجدان سره
ویښ کړه ویده زړونه په پښتو او په ایمان سره
لوړ معراج که غواړی نو راځه د قام خدمت وکړه
ننګ وکړه پښتووکړه همت وکړه غیرت وکړه
ځان دی برابرکه هله نن د دی جهان سره
ویښ کړه ویده زړونه په پښتو او په ایمان سره
څو پوری به اوسی په ګوندی او تربګنو کی ته
څو به لا لوبیږی په غمونو اند یښنو کی ته
پریږده ورور وژنه زیاتی فکر وکه ځان سره
ویښ کړه ویده زړونه په پښتو او په ایمان سره
ستا توره میرانه خو معلومه ټول جهان ته ده
ستا شعله پخوانه هسی لوره پاس اسمان ته ده
نه ښائی پیښی د بل پښتونه ستا د شان سره
ویښکړه ویده زړونه په پښتو اوپه ایمان سره
ورکه د ورورۍ لاسونه جوړه پښتونخوا که ته
پریکه د د ښمن لاسونه سمه شاوخوا که ته
لراوبر یوکیږی دامی واوره ستا ارمان سره
ویښکړه ویده زړونه په پښتواوپه ایمان سره
هغه پښتون ندی چی د بل ډول ته نڅیږی تل
خپل سینګار ئی هیر دی په پردی فیشن غولیږی تل
ستا ډول پښتو ده دا فیشن نه ښائی ځوان سره
ویښ کړه ویده زړونه په پښتو اوپه ایمان سره

" یار "

ئوي‌نو دګوند دمرکزي جرګې دمربو طه څانګې له خوا محکمه کیږي او دګوندي دندې‌او یا غړیتوب ځنځه دځه مودې اویا دتل دپاره لرې کیدلې او وېستل کیدلې شي. دځ کولې شي چه دګوند مرکزي جرګې ته شکایت وکړي خود مرکزي جرګې پریکړه دمنلو وړده. دبړي مشر دخپلې بړي دسترې جرګې‌او مرکزي جرګې غړي دلوړې جرګې اود ګوند مشر د ګوند دسترې جرګې لخوا محاکمه کیدلی شي.

<u>دندې حقوق او مسئولیتونه</u>: هر غړي دا دنده لري چې دګوند دپریکړو په عملي کولو او د ګوند دکړنلارې په پرمختیا او سمسورتیا شي څه له برخه‌وا خلي دګوند راز وساتي او وفاداري ورته‌وښائي.
هرغړي‌به دخپلې بیې (درکې) د بدلیدو خبر مربوطه مقام ته ورکوي.
هر غړي مجبور دي چه ګوند ته هره میاشت خپله دغړیتوب ونډه ورکړي. دونډې اندازه دګوند دسترې جرګې له خوا تاکل کیږي.
هرغړي دخپلو مربوطه جرګو په چارو کښې درائو او پیشنهادونو (تجویزونو) حق لري او په پریکړو کښې برخه لرلي شي او کولې شي چه دخپل ګوند په مسلکي اودعلاقو په تولنو کښې هم غړي شي. هر غړي دخپلې خوښې سره سم دګوند څخه دوتلو لیکلې غوښتنه کولې شي. دګوند څخه په وتلو او یا وېستل کیدلو دده حقوق په ګوند کښې دمنځه ځي اوهم ئي په ګوندي تولنو کښې غړیتوب پای ته رسیږي.
وتلي او یا وېستل شوي کسان دګوند یا دګوند دغړو سره دهیڅ د ول دعوي او هم دګوند درازونود ښکاره کولو حق نلري او بیرته دمرکزي جرګې درایو په دېره ئي سره دګوند غړیتوب کیدلی شي.
دګوند سترې جرګه دګوند ترټولو جګ واکمن مقام دی چې دګوند کړنلاره تاکي دګوند غړي، دند طرونکې او نوري جرګې به دګوند دسترې جرګې پریکړې عملي کوي. دګوند عادي ستره جرګه دګوند دمرکزي جرګې له خوا به هرو پنځو (٥) کلونوکښې بوځل او دضرورت په حالت کښې دګوند ناعادي ستره جرګه به هر وخت کښې دګوند دمرکزي جرګې د رایو په اتفاق اویا دلویه جرګې درایو په دېره ئي سره راغونډل کیدلی شي.
لویه جرګه به عادي توګه به هرو دوو (٢) کلونو کښې دمرکزي جرګې له خوا راغونډل کیږي او دضرورت په حالت کښې به هروخت کښې دګوند دمرکزي جرګې درایو په اتفاق سره راغونډل کیدلی شي.
لویه جرګه دپښتونخوا دملي جرګې (قومي جرګې) دناکې دمبارزې دپاره تیاري نیسي او د پرو سیاست دګوند دعمومي سیاست سره سموي او دګوند دکړنلارې او دګوند دسترې جرګې دپریکړو په عملي کولوکښې دمرکزي جرګې سره مرسته سرته رسوي او سلا ورکوي.
دبړي ستره جرګه دبړي د جرګې له خوا به کال کښې یو ځل دبړي ناعادي ستره جرګه دبړي د جرګې درایو په اتفاق هروخت راغونډل کیدلې شي.
مرکزي جرګه دګوند دمشر، دبړي جرګه دبړي دمشر، دتیلې جرګه دتیلې دمشر، ددلې جرګه دلې دمشر او دلکې جرګه د دلکې دمشر له خوا دضرورت سره سم راغونډل کیږي.
دلکې جرګه دخپلې دلې، ددلې جرګه دخپلې تیلې او د تیلې جرګه دخپلې بړي او دبړي جرګه دبړي سترې جرګې، دبړي ستره جرګه دګوند مرکزي جرګې ته او دګوند مرکزي جرګه او لویه جرګه بیا دګوند سترې جرګې ته مسئولیت (ذمه واري) ځواب لري.
هره ټیټه جرګه به دخپلې پاسنۍ جرګې پریکړې



مني. ټیټې جرګې کولې شي چې خپلې پریکړې او پیشنهادونه (تجویزونه) خپلې پاسنۍ جرګې ته وړاندې کړي خو د پاسنۍ جرګې پریکړه به هرو مرو منل کیږي. ټیټې جرګې نه شي کولې چې دخپلو پاسنیو جرګو په چارو کښې ګوتې ووهي خو پاسنۍ جرګې کولې شي چې دخپلو ټیټو جرګو په چارو کښې لاس ووهي.
ګوندي ټولنې کولې شي چه څانته خپل منشور ولري خو دغه منشورونه دګوند دپښتنیزې سره په ټکر کښې نه وي.
دګوند مشر دګوند په دننه او بهر کښې دګوند نمایندګي کوي او حقوقي واک لري سیاسي اقتصادي
کلتوري او نور ترونونه دګوند په نامه کولې شي او هم دګوند دمختلفو چارو او پروګرامونو سرته رسولو دپاره نمایندګان نیولي او جرګګۍ جوړولې شي او هغوي ته واک ورکولی شي. دګوند مشر هوا زه د ګوند سترې جرګې ته مسئولیت ځواب لري او نه شي کولې چې پښتونخوا کښې دګوند او هم د حکومت او یا هیواد مشروي.
<u>خبرونې</u>: دپښتونتولنیزا ولسولیز ګوند خپلې خبرونې په پښتو ژبه په پښتونخوا کښې کوي او هم به نورو ژبو د پښتونخوا د ځانګړي کښي راوکاږي.
<u>بیرغ</u>: دپښتنو د تولنیزا ولسولیز ګوند بیرغ طلائي رنګ لري چې دګوند نښه چې د پښتون نېکه خوشحال خان بابا قلم او توره ده پکښې دورایسه ځلیږي.
<u>دباچاخان جایزه</u>: دپښتنو تولنیزا ولسولیز ګوند دباچاخان په نامه هغه زمونږ زوند ته تاریخ او سیاسي رښا ده په هرو لسوکلونو کښې هغه جاسه چې دقام او وطن دخپلواکي او ازادي په لاره کښې ستر خدمتونه کړي وي دباچاخان په نامه جایزه ورکوي. دجایزې دورکولو جرګګۍ دګوند دمرکزي جرګې له خوا ټاکل کیږي.
<u>ګیوړنې دود</u>: ددې پښتنیزې سره بوګوړنې دود مل دی چه دا پښتنیزه پښتوي او د ګوند چارې به ښه توګه سمبالوي.
<u>پښتنیزه کښې تغیر او بدلون</u>: به دې پښتنیزه کښې دګوند دسترې جرګې درایو به دریو څلورو (۳/۴) برخو درایو سره تغیر او بدلون راتلې شي.

تــل به په لار د میړنــو سره ځــم
پــه پښتــون د پښتنــو سره ځــم
خــوچي راغونډ په یومرکز ئي نکړم
هــري تــبې ته د جــرګو ســره ځــم
واښی اغیارچي د دوزخ ژبــه د ه
زه بــه جنت لــه د پښتنو سره ځــم
«حمــزه» سغرکه داعجاز وی نو هم
زه د پښتــون د قافیلو سره ځــم
«حمــزه شــنواری»



# خوشحال خان بابا

<u>خــوشــحــال خان بابا خپــله پيژندګلوی داسی کـــــــو ی:</u>

ز ه خــوشحال د شهباز خان یــم
شهبازخان د یحیی خـــــان و
یحیی خان داکــــــوړ ی و
داکبر بادشا پــــه د و ر
د هجرت زرد وه ویشت ســن و
هغه کال پوره پنځـــو س و
چی تورزن یم کــان پــه کان
چی بل نه و هسی ځـــوان
چی په تــو ره شو «سلــطان»
شــو د خپل اولس نور خـــان
چی زه راغــلم په جــهــان
چی شهید شو شهبازخــان


خــوشحــال خــان بابا
( ۱۰۲۲ – ۱۱۰۰ هـ یا ۱۶۴۳ – ۱۷۲۱ ع )

د خوشحال قــدر که اوس په هیچا نشته پس له مرګه به ئی یاد کا برعالم




کــه ســوره وی کــه پــوره وی پــه شــریـکه بــه وی
( بــاچــاخــان )

*Das Brot, ob belegt oder trocken, wird unter allen gemeinsam aufgeteilt (Batscha chan)*

*Buttered or unbuttered bread will be common (Bacha Khan)*